# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۹مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۴مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۲/۸/۸



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- اقتصادي کمېسیون کې د پانګونې د لس طرحو تاییدي

۲- له افغانستانه روسیې ته د انارو د لېږد پروسې پیل

۳- د پاکستان پر ځای د بدیلو سوداګریزو لارو لټه

# اقتصادي کمېسیون کې د پانګونې د لس طرحو تاییدي

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه، چې د ۱۴۰۴ کال د عقرب میاشتې په څلورمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د شاوخوا دوه میلیارد او ۲۷۴ میلیون افغانیو په ارزښت په کې د پانګونې لس طرحې تایید شوې. زیاتره تایید شوې طرحې په مختلفو ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو طرحې وې، چې د اقتصادي معاونیت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې له لوري په هراړخیزډول څېړل شوي او د تاییدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته



راجع شوې وې. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د سوداګرۍ پراختیا او ورته د امکاناتو برابرېدو له پاره ډېرې هلې ځلې کوي، څو له یوې خوا اقتصادي وده رامنځته شي او له بلې خوا د بېکارۍ کچه ورسره راټیټه شي. پانګونه د یو هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېره اړینه ده. په وروستیو کلونو کې د اسلامي امارت د مختلفو ارګانونو له لوري ډېره پانګونه جلب او جذب شوې ده. په دې برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ډېرې هڅې کړي او په مختلفو سکټورونو کې یې ډېره کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب کړې او د پانګونې لسګونه طرحې یې له ارزونې وروسته لوړو مراجعو ته د تاییدۍ له پاره استولې دي.

وروستیو کې په کابل ښار کې د پل خشتي جومات مخې ته یو لوی ځمکتلی سوداګریز مارکیټ ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د ګڼو نورو سوداګریزو مارکیټونو کارونه جریان لري.

# له افغانستانه روسیې ته د انارو د لېږد پروسې پیل

افغانستان ځینې داسې مېوې لري، چې د سیمې او ان نړۍ په کچه یې کیفیت بې سارې دی. انګور، مڼې او انار د افغانستان داسې مېوې دي، چې بهرکې ډېر مارکېټ




لري او تقاضا ورته زیاته ده.

روسیه، چې افغانستان ورسره ښې سیاسي او سوداګریزې اړیکې لري، د افغانستان د انارو د صادراتو له پاره ښه مارکېټ دی. د افغانستان اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد روسیې ته د افغانستان د انارو د لېږد د پروسې د پیلېدو خبرورکړی او دا یې په اقتصادي لحاظ د افغانستان له پاره یو خورا ارزښتمن ګام ګڼلی دی.

د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې یو تن مسوول ویلي، د روان میلادي کال تر پایه به د تورغونډۍ بندر له لارې شاوخوا ۲۰۰ ټنه انار صادر شي. روسي لوري سره له څو میاشتو خبرو اترو وروسته دغه هېواد ته د افغانستان د انارو د صادرېدو فرصت برابربرېږي. د انارو د صادراتو لېږد کې هڅه

کېږي چې د بسته بندۍ نړیوال معیارونه په نظر کې ونیول شي.

روسیې ته د افغانستان د انارو صادرول د افغانستان د اقتصاد له پاره یو ښه خبر دی. دا به د افغانستان د بڼوالو او سوداګرو له پاره نوي فرصتونه رامنځته کړي، چې له امله به يې نه یوازې د افغانستان صادرات زیات شي، بلکې د کورني اقتصاد د ودې لامل به هم شي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي، څو د کورني اقتصاد او بهرنۍ سوداګرۍ د ودې له پاره نوي مارکیټونه ومومي، چې په ټوله کې به د هېواد اقتصادي وده ورسره ګړندۍ شي.

## د پاکستان پر ځای د بدیلو سوداګریزو لارو لټه

درېیمه اوونۍ ده چې پاکستان له افغانستان سره په ډیورنډ فرضي کرښه پرتې سوداګریزې لارې د هر ډول تګ راتګ پرمخ تړلې دي، چې له امله يې د دواړو غاړو سوداګرو ته میلیونونه ډالر زیان اوښتی دی.

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي ویلي، د پاکستان پر ځای د بدیلو سوداګریزو لارو موندلو په لټه کې دی، څو د هېواد کرنیز محصولات او صنعتي تولیدات د نړۍ بازارونو ته ورسوي.

اوسمهال افغانستان له ایران او د شمالي ګاونډیو په ګډون له ګڼو هېوادونو سره پرانېستې لارې لري، چې سوداګري ترې کېږي او اسلامي امارت هڅه کوي چې له دې لارو څخه په استفادې د افغان بزګرانو او صنعتکارانو ملاتړ وکړي.

دغه راز، څو ورځې وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ یوه ناسته کې اړوندو ادارو ته لارښوونه وشوه چې د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه کارګو الوتکې وپېرې او د اوس له پاره دې اریانا افغان هوايي شرکت د ترانزیټ برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي. اریانا افغان هوايي شرکت په دې اړه عملي ګامونه اخلي. اسلامي امارت د خپلو سوداګرو، بزګرو او صنعتکارانو ملاتړ او نړیوالو بازارونو ته د دوی د توکو رسولو کې اسانتیاوې برابرول خپل ملي مسوولیت بولي او د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کوي.

